## تابع
د مبيعې او يا د يو عقد د موضوع په هر هغه برخه با ندې چې د خلکو په دود او تعا مل کې د هغې غړی، متمم او يا لازم و ګڼل شي، اطلاقيږي. دری: [تابع]

## تابعه شركت
هغه شركت تـه ويـل كېږي چې د يـوه بـل شـركت يـا شـركتونو څانګـه وي. (شـركت تـه دې مراجعـه وشـي).
دری: [شرکت تابع]

## تابعيت
د يـوه معين دولـت سـره د شـخص سياسـی، حقـوقي يـا معنوي اړيکې دي پداسې حال کې چې د شـخص اصـلي حقوق او تکاليف لـه همـدې اړيکـې څخه پيـدا كيـږي.
دری:[تابعیت]

## تأجير
د اجـرت او پـه اجـاره وركولـو عمـل تـه ويـل كـېږي.
دری: [تأجیر]

## تأجيل
د پور تعليق او تـأخير او شـاته اچـول دي د يـوې ټـاكلې شوې مودې لپاره. دری:[تأجیل]

## تأديب
د قانون لـه احكـامو سـره سـم، هغـه نـوع جـزا ده چې د صلاحيت لرونكي شخص له خوا د يو متخلف شـخص د اصلاح يا سرزنش په موخه صورت مومي. دری:[تأدیب]

## تأديبي معايدات
هغه دی چې موخه يې د سرغړوونکي تأديب او اصـلاح وي او د واكمنو مقاماتو له خوا د قانون له حكمونـو سـره سم سرته رسيږي. دری:[معایدات تادیبی]

## تأديه
د متعهد پر عهده د هغه حق وركول دي چې د نـورو پـه ګټه وي. دری:[تأدیه]

## تاريخي آثار
هغـه شـيان دي چـې د تـاريخي قـدامت لرونكـی وي.
دری: [آثار تاریخی]

## تاريخي تفسير
تاريخي منشې تـه رجـوع كـول او د قـانوني وضـعې پيـدا كول دي. دری: [تفسیر تاریخی]

## تأسيس
د يوه نوي حكمي شخصيت رامنځ ته كول دي لـه قـانون سره سم د اساسنامې په اساس او يا د اساسنامې ممثل متن يا مقررې او يا يوه نوي قانون پر بنسټ. دری: [تأسیس]

## تأليف
د هغـې ليكنـې انشـأ چـې پـه علمـي يـا ادبـي ټـاكلي او مشخصـې موضـوع كـې لـه متعلقـه منـابعو او مأخـذو لـه استفادې سره يا پرته له هغه ترتيبيږي. دری:[ تألیف]

## تام الإختيار
هر هغه شخص چې د قانون پر بنسټ د نورو اشخاصو پـه استازيتوب د حقوقي اعمالو په سـرته رسـولو لاس پـورې كـــړي او د كامـــل واك او اختيـــاراتو لرونكـــی وي.
دری: [تام الاختیار]

## تام جرم
هغه جرم ته ويل كيږي چې جوړوونكي عناصر يې پـوره او ورڅخـه د پـام وړ جرمـي پايلـه لاس تـه راغلـې وي.
دری: [جرم تام]

## تام مساوات

هغه اصطلاح ده چې په یو شان او په بشپړه توګه د افرادو د مادي او معنوي حقوقو د لاس رسی لپاره کارول کیږي. درى: [مساوات تام]

## تام ملك

هغه صلاحیت یا واك چې شارع هغه لوړی د تصرف لپاره تثبیت کړی وي. درى: [ملک تام]

## تام ملکیت

د شخص قدرت او واك دی دده د ملکیت په تصرف کې، که دا عین وي او یا منفعت. درى: [ملکیت تام]

## تامه اکراه

له هغې اکراه څخه عبارت ده چې پکښې د ځاني او یا مالي لوی خطر په اړوند تهدید شتون ولري.

درى:[ اکراه تام]

## تأمینات (سوداګریز)

هغه اختیاري حالت چې تجارتي محکمه د مقابل لوري د تاوان د جبران لپاره دربیمګړي شخص او د محکمې د محصول او مصارفو لپاره د تأميناتو د اخیستلو قرار صادر وي. درى:[ تامینات (تجارتی)]

## تأمینی اقدامات

له هغو تدبیرونو څخه عبارت دی چې محاکم یې د مجرمینو په اړه د جرم د تکرار د مخنوي په غرض نیسي.

درى:[اقدامات تامینی]

## تاوتریخوالی

هغه عمل دی چې یو څوك د هغه په واسطه خپل هدف ته د رسیدلو لپاره د تهاجم، تندخویي او حملې څخه کار واخلی. درى:[خشونت]

## تأویل

د احتمالي معنی د اخستلو په اړه، د قانون د مشخصې مادې د حکم تعبیر دی. درى: [تاویل]

## تائید

عبارت د قبول او انشأ کولو د یوه متن او یا یوه شخص دی، د نورو واك لرونکو اشخاصو یا مراجعو له خوا.

درى: [تائید]

## تبذیر

په شرعي او مدني اصطلاحاتو کې د اضافه خرچی او ولخرچی په معنی کارول کیږي. درى: [تبذیر]

## تبرع

له مقابل لوري څخه له طبعې پرته د یو شئ ورکول او یا د یو عمل سرته رسول دي. درى: [تبرع]

## تبرعي ایفا

هغه اداري چې ثالث شخص د مدیون دین، داین ته ادا کړي. درى: [ایفاء تبرعی]

## تبرئه کول

د متهم له بیګناهی او بې تقصیری څخه عبارت دی چې د محکمې د حکم په واسطه په وارده اتهام کې صادر یږي. درى:[تبرئه کردن]

## تبرئه کېدل

له وارده اتهام او مسئولیت څخه د برائت حاصلول دي.

درى:[ تبرئه شدن]

## تبعي رهن (ګروي)

هغه ګروي ده چې د بل عقد ضمني شرط دی او مشروطه ګروي هم ورته ویل کیږي. درى: [رهن تبعی]

## تبعي سوداګريز معاملات

هغه ډول تجارتي معاملات دي چې اصلاً او ذاتاً تجارتي نه دي، خو که دغه معاملات د سوداګرو له خوا د سوداګريزو چارو لپاره ترسره شي، سوداګريز ګڼل کيږي. دری: [معاملات تجارتی تبعی]

## تبعي عيني حقوق

له هغو حقوقو څخه عبارت دي چې د تضمين لپاره پر عين مرتب کيږي چې په رسمي ګروی، د حيازي ګروی حق، د عين حبسولو حق، د اختصاص حق، د امتياز حق کښې منحصر وي. دری: [ حق عينی تبعی]

## تبعی جزاګانې

هغه مجازات دي چې د قانون په حکم، پرته له دې چې قاضی ئې په خپل حکم کې تصريح کړي، په محکوم عليه باندی تطبيق کيږي. مثلاً له ځينو سياسی او مدني حقوقو څخه محروميت. دری: [مجازات تبعی]

## تبعيد

هغه جزا ده چې د واکمنې محکمې له حکم سره سم په يو شخص له يو ځای څخه بل ځای ته د امنيتي تدابيرو په موخه تطبيقيږي. دری:[تبعيد]

## تبعيد ځې

په تبعيد باندې د محکومو مجرمينو ساتنځې دی. دری: [تبعيدګاه]

## تبعيدي

هغه شخص چې د محکمې د حکم په موجب په تبعيد باندې محکوم شوی وي. دری: [تبعيدی]

## تبعيض

د ټولنې د افرادو ترمنځ د جنس، د زيږيدو د ځای، قوم، مذهب، ژبې، نژاد او نورو داسې مسايلو له پلوه په بېلابېلو حقوقي، سياسي، اقتصادي او فرهنګي اړيکو کې توپير کول دي. دری:[تبعيض]

## تتبع

د عيني حق د لاس ته راوړلو په موخه ټاکلې پيګيري ده. دری: [تتبع]

## تجارتخانه

هغه ځای دی چې سوداګرې د خپلو تجارتي فعاليتونو لپاره ټاکي او په اړوندو مراجعو کې ثبت وي. دری: [تجارتخانه]

## تجارتي ارتفاق

هغه حالت دی چې يو تاجر د بل مفلس تاجر په ګټه له ځينو معاملاتو څخه تېريږي. دری: [ارتفاق تجارتی]

## تجارتي اساسنامه

عبارت له هغه سند څخه دی چې په هغه کې د يوه شرکت جوړښت، موخی او د تجارتي فعاليت څرنګوالی درج وي. (اساسنامې ته دې مراجعه وشي). دری: [اساسنامه تجارتی]

## تجارتي اهليت

له هغه ظرفيت او قانوني پياوړتيا څخه عبارت دی چې اشخاصوته د تجارتي اعمالو د اجراء صلاحيت ورکوي. دری: [اهليت تجارتی]

## تجارتي حقوق

د هغو قواعد و مجموعه ده چې د سوداګرو په اړيکو او تجارتي اعمالو حاکم دي. دری: [حقوق تجارتی]

## تجارتي دستګاه

هغه حرفوي دستګاه چې د تخنيکي وسايلو او مختلفو موادو د استفادې په کولو سره د ځانګړي شيانو د توليد، مونتاژ او يا ترميم لپاره فعاليت کوي.

دری :[دستګاه تجارتی]

## تجارتي دفتر

عبارت له هغو دفترونو څخه دی چې په هغو کې ټول شته ورځني فعاليتونه د ټولو هغو وارده او صادره ليکونو ثبت تر سره کيږي. دری: [دفتر تجارتی]

## تجارتي شرکت

عبارت دی د څو شخصيتونو له ګډون څخه چې موخه يې په واحده موضوع کې يا په متعددو (ګڼو) موضوعاتو کې تجارتي وي. دری: [شرکت تجارتی]

## تجارتي قايم مقام

تجارتي قايم مقام هغه کس دی چې د تجارتخانی د رئيس ځای ناستی وي او د دې صلاحيت پيدا کوي چې د تجارتخانې ټولې چارې او يا ځانګړې چارې سرته رسوي، د رئيس له خوا د نايب په توګه ټاکل کيږي او د هغه لاسليک تجارتخانې ته الزامي وي.

دری: [قايم مقام تجارتی]

## تجارتي ګدام (ګودام)

هغه ځای، تعمير يا ودانی ده چې په هغې کې سوداګر خپل کالي يا ګاڼې او مالونه ساتي. دری: [ګدام تجارتی]

## تجارتي مارك يا تجارتي علامه

تجارتي علامه يا صنعتي علامه هغه نښان دی چې د کاليو او محصولاتو د پېژندنې او مشخص کولو لپاره کارول کيږي. دری: [مارک تجارتی يا علامت تجارتی]

## تجارتي موضوع

له هغې موضوع يا موضوعګانو څخه عبارت دي چې سوداګريې په خپله اساسنامه کې د خپل فعاليت لپاره ټاکي او مشخصوي. دری: [موضوع تجارتی]

## تجارتی ثبت

د قانون د احکامو سره سم د تجارتي فعاليتونو د مشخصاتو د ثبت تکميلېدل دي. دری: [ثبت تجارتی]

## تجارتی دود

تجارتی دود له هغو افعالو څخه عبارت دی، چې د عادت له مخی په تجارت کی تکرار شي.

دری: [عرف تجارتی]

## تجارتی معاملی

سوداګر يا غير سوداګر کسان چې منقول مالونه د پلورلو يا بل چاته د اجارې ورکولو په غرض پيري او هغه منقول مالونه په اصلي حالت يا په بل شکل واړوي او ويې پلوري او يايې په اجاره ورکړي دا پلورل او په اجاره ورکول له تجارتي معاملو څخه ګڼل کيږي.

دری: [معاملات تجارتی]

## تجانس

د بيعې په عقد کې د جنسونو يووالی دی.

دری: [تجانس]

## تجاوز

چې د حقيقي او حکمي اشخاصو په معنوي او مادي حقوقي محدوده کې له نافذه مقرراتو څخه په آګاهانه توګه لاس وهنه وکړي. دری: [تجاوز]

## تجديد

يو حقوقي تصرف دی د تکرار په توګه. دری:[تجديد]

## تجدید نظر

د غیر عادي اعتراض له لارې نظر چې د نویو دلایلو په راتلو سره چې د نهائي حکم په ماهیت کې تأثیر واچوي صورت مومي. دری:[تجدید نظر]

## تجزي

هغه ده چې شخص د حکمونو یوه برخه د هغو ادلو په وسیله چې په لاس کې یې دي، استنباط کړی وي.
دری: [تجزی]

## تجسمي اثر

هغه اثر ته ویل کیږي چې د صورت په شکل ایجاد شوی وي. (علمي او هنري اثر ته دې مراجعه وشي).
دری: [اثر تجسمی]

## تجهیز

د مړي لپاره د لازمي وسایلو او ترتیباتو برابرولو ته ویل کیږي. دری: [تجهیز]

## تجهیزات

هغه پرته د لګښت وړ اجناس او سامان دي چې په دولتي دوایرو کې د استفادې وړ وي او د وخت په تیریدو استهلاک کیږي. دری: [تجهیزات]

## تحالف

هغه حالت دی چې دواړه دښمنان لوړه کوي.
دری:[تحالف]

## تحبیس

د مال د حبس کولو او د هر ډول تصرف مخنیوي دي.
دری:[تحبیس]

## تحت الحفظ (ترساتنې لاندې)

هغه حالت دی چې پکښې نیول شوی او یا په بند باندې محکوم تورن د استوګنې او اړین تګ راتګ پر مهال د مامورینو تر ساتنې او څارنې لاندې وي.
دری:[تحت الحفظ]

## تحت الحمایه

هغې خاورې ته ویل کیږي چې په یوه نه یوه ډول د بل دولت تر نظارت لاندې راغلی وي.
دری: [بیطرفی قراردادی]

## تحجیر

د ځمکې د شاوخوا تیږو (ډبرو) ایښودل دي د خاوند له خوا د ځمکې د ټاکلو لپاره. دری:[تحجیر]

## تحریري ابلاغ

د یو عدلي او قضایي مرجع د حکم او یا قرار لیکل شوی بیان ته او هم د حقیقي او حکمي اشخاصو له طرفه د دوی له مقابل لوري سره په بېلابېلو عقدونو او قراردادي تعهداتو کې لیکل شویو بیاناتو ته ویل کیږي.
دری: [ابلاغ تحریری]

## تحریري ثبوت

هغه ثبوت دی چې په لړکې یې د دعوی اثبات د لیکل شوي اسنادو پربنسټ صورت مومي.
دری: [ثبوت تحریری]

## تحریك

د بل هڅول دي د جرم په ارتکاب باندې په هره وسیله مادي وي که معنوي چې په پایله کې په جرمي نتیجې منجر شي. دری:[تحریک]

## تحریمي مکروه

هغه مکروه چې شریعت، مکلف د هغې له کولو څخه منع کړی وي اما کوم قطعي دلیل د هغې لپاره نه وي.
دری: [مکروه تحریمی]

## تحصیلي پاسپورټ

هغه مشخص رسمي سند یا پاسپورټ دی چې د اوږدې یا لنډې مودې لپاره د تحصیل په مقصد د اړوندو مقاماتو له خوا د قانون له حکمونو سره سم صادرېږي.
دری:[پاسپورت تحصیلی]

## تحصیلي درېځ (موقف) یا (حالت)

هغه حالت چې مامور د اداري په موافقه د هېواد په دننه او یا بهر کې د اوږدې او لنډې مودې په توګه د تحصیلي پروګرامونو په زده کړې بوخت وي.
دری: [موقف تحصیلی]

## تحقیق

عبارت دی د حقایقو له تثبیت څخه ترڅو واکمنه محکمه پرې حکم وکړي. دری: [تحقیق]

## تحکیم

هغه حالت دی چې د دعوې دواړه خواوي یو شخص ټاکي چې د هغو چارو په هکله چې د دوی په مینځ کې د هغو په سر اختلاف شته، حکمیت وکړي.
دری:[تحکیم]

## تحلیف

هغه حالت دی چې د دښمنانو یوې خوا ته لوړه متوجه کیږي. دری:[تحلیف]

## تحویلخانه

هغه ځای دی چې اجناس، تجهیزات او اموال پکې زیرمه او ساتل کیږي. دری:[تحویلخانه]

## تخارج

د خپلی ټاکلی میراثی له سهم څخه د یو وارث انصراف دی په عوض یا بدون عوض نورو ورثو یا وارث ته.
دری:[تخارج]

## تخریب

د ورانولو، خرابولو او یا د بل د مال په عمدي ډول د ګټې اخیستلو څخه غورځول دی. دری: [تخریب]

## تخصصي محاکم

ځینی عادي جزائي محاکم دي چې د عادي قانون له احکامو سره سم ځانګړي جرمونه تر څېړنې لاندې نیسي.
دری: [محاکم تخصصی]

## تخصیص

ددې ترڅنګ چې په ټاکلیو ادارو کې د بودجې د ټاکل شویو مصارفاتي برخو ځانګړې برخو ته ویل کېږي، په یو عقد کې د یوه ځانګړي حقوقي عمل د سرته رسولو لپاره هم کارول کیږي. دری: [تخصیص]

## تخلص

د یو شخص د نوم آخرینی برخه ده چې په معمولي توګه د هغه د کورنی، مسلک- قوم او یوې سیمې پورې د هغه د منسوبیت او نورو په اړه ایښودل کیږي. دری:[تخلص]

## تخلف

د مدني حقوقو په اصطلاح کې، د تعهد نه ترسره کول او یا هم د تعهد په ترسره کولو کې ځنډ راوستلو ته تخلف ویل کیږي. دری:[تخلف]

## تدارکاتي عقد

هغه عقد دی چې د هغه له مخې عاقد د پیسو د اخیستلو په وړاندې متعهد کیږي چې خپل تعهدات په ټاکلې موده کې پوره کړي. دری: [عقد تدارکاتی]

## تدافع
تدافع د مدعي له هغې خبرې څخه عبارت دی چې د هغه له دعوی سره متناقض وي. دری: [تدافع]

## تدریجي (ورو ورو) ترقي
د مالیې وړ شي د تقسیم او طبقه بندۍ له مخې د بېلابېلو فیصدیو ټاکلو ته ویل کیږي. دری:[ترقی تدریجی]

## تدلیس
د مبیعې او یا د عقد په موضوع کې د عیب له پټولو څخه عبارت دی. دری: [تدلیس]

## تدلیلي افلاس
هغه افلاس دی چې د ناوړه نیت او غش څخه مینځ ته راغلی وي. دری: [افلاس تدلیلی]

## تذکره
هغه قانوني سند دی چې د چاپي پاڼې یا پاڼو او ټوک په بڼه وي او د یوه تبعه پېژندنه او اصلي حالت پکې څرګند او لیکل شوی وي. دری:[تذکره]

## تر تعقیب لاندې
هغه حالت چې د جرم مرتکب د جرم له ارتکاب څخه وروسته تعقیب لاندې راځي. دری:[ تحت تعقیب]

## تر توقیف لاندې شخص
هغه تورن شخص چې د محاکمې د انتظار په حالت کې وي او په هغه ځای کې چې پدې منظور ټاکل شوی دی، ژوند تیروي. دری: [شخص تحت توقیف]

## تر څارنې لاندې ملکیت
هغه ملکیت دی چې څښتن یې د یوې مرجع تر څارنې لاندې وي او تر تصفیې پورې نشي کولای هغه وپلوري.
دری: [ملکیت تحت مراقبت]

## تر ساتنې لاندې سیمې
هغه ټاکلې ساحه ده چې د ځینو سیمه ییزو څارویو او بوټو او د هغوی د ژوندانه د چاپېریال د ساتنې په مقصد د ذیصلاح مراجعو له خوا تثبیت شوی وي.
دری: [مناطق تحت حفاظت]

## تر مړینې وروسته وېش
د ورثې ترمنځ د مورث تر مړینې وروسته د هغه د مال او شتمنې وېش. دری: [تقسیم بعد از مرگ]

## تر یوځای کېدو (مزاوجت) مخکښې طلاق
هغه طلاق دی چې مېړه خپله ښځه د نکاح تر عقد وروسته او تر صحیحه خلوت مخکښې طلاقه کړي.
دری:[ طلاق قبل از نزدیکی (مزاوجت)]

## تراشل
په یوه سند یا لیک کې د یوې کلمې په بشپړه توګه له منځه وړل دي. دری: [تراشل]

## ترافیکي پیښه
په عامه لاره کې د نقلیه واسطې هر ټکر او پیښه چې د مالي او ځاني زیان لامل شي. دری: [حادثه ترافیکی]

## ترافیکي جرمونه
پر هغو جرمونو اطلاق کېږي چې له ترافیکي حوادثو څخه پیدا شوی وي او یا له ترافیکي قوانینو او مقرراتو څخه سرغړونه وي. دری:[جرایم ترافیکی]

## ترافیکی تاسیسات
هغه نخښې، اشارې او ساختمانونه چې موخه یې ترافیکي لارښوونه او اسانتیا وي دي. دری:[ تاسیسات ترافیکی]

## ترانزیت (د عبور حق)

ترانزیت عبارت له هغه حالت څخه دی چې د یوه هېواد مالونه او کالي له دوه یم هېواد څخه د دریېم هېواد او یا نورو هېوادونو په مقصد چې لـه ګمرکي محصول پرته فقـط د تېرېـدلو د حـق پـه ورکولـو سـره مکلـف وي.
دری: [ترانزیت (حق العبور)]

## ترانزیتي ګدام

د ترانزیتي مـالونو د ذخیـره کولـو ځـای دی چې د بیا صادرولو په موخه ځای په ځای شوي وي.
دری: [گدام ترانزیتی]

## ترجیعي تعرفه

پـه ګمرکـي تعرفـه کـې درج د دارائـي د محصـول لـه ټیټوالي، تعلیق یا معافیت څخه عبارت ده.
دری:[تعرفه ترجیعی]

## ترجیح

په بیلا بیلو حقوقي او شـرعي موضـوع ګـا نـو کـې ددوو حکمونـو یـا دوو دلیلونـو تـرمینځ لـه غـوره کولـو څخـه عبارت دی چې ټاکلیو اصولو سره سـم تـر سـره کېږي.
دری: [ترجیح]

## ترجیحي تعرفه

هغه رسمي سند چې د وارداتي مالونو د ګمرکي معافیـت پــه بــاب د قــانون لــه احکــامو ســره ســم صــادرېږي.
دری:[تعرفه ترجیحی]

## ترصد

په یوه معین مکان د جرم د فاعل انتظار ایستل دي د جرم د اجراء لپاره، چې هغه مکان ته چې فاعل د خپل جرمـي فعل د نتیجې توقع ولري. دری: [ترصد]

## ترقب

د حـق د امیـد پـه حالـت چـې متحمـل الوقـوع وي.
دری:[ترقب]

## ترک

د فعل له عدم انجام څخه عبارت دی چې شخص د هغه په کولو توان مند وي. دری: [ترک]

## ترك شوي شیان

هغه شیان دي چې د بل چا ملکیت وي او مالـك د هغـو له ملکیت څنې لاس وېستلي وي. دری: [اشیاء متروکه]

## ترکه

د ورثه وو په منـځ کـې د میـراث د ګـډ مـال او شـریکو حقوقو تقسیمول دی. دری:[ترکه]

## ترمیمي عدالت

هغه حالت چې پر بنسـټ یـې د جـرم او سـزا چوکـاټ د دولـت او رسـمیاتو لـه انحصـار څخـه ووځـي د مـتهم د مجـازاتو او د هغـو د ګذشـت پـه ارتبـاط منځګـړی او اصلاحي بنسټونه جوړېږي. دری: [عدالت ترمیمی]

## ترور

هغه عمل دی چې یو دولتي، سیاسي، اجتمـاعي، مـذهبي، شخصیت د دولتي یا ټولنیزې دندې په ارتباط د حاکمیت د کمزورۍ په موخه په قتل رسېدلی وي. دری:[ترور]

## تروریزم

د حکومت، ټـولنې او اشخاصـو پرضـد د وحشـت او تـاو تریخوالي له یـو سیسـتماتیك او سـازمان مونـدلی تهدیـد څخه عبارت دی چې یو سیاسي هدف ته د رسیدو لپـاره کیږي. دری:[تروریزم]

## تروریست او تروریستی سازمان

حقیقي یا حکمي شخص چې د ترهګرۍ په اړوند قانون کې له درج شوو جرمونو څخه د یوه مرتکب شوی وي یا د ملګرو ملتو د سازمان د امنیت شورى د پرېکړه لیک مطابق تروریست یا تروریستي سازمان و پېژندل شي، پدې شرط چې پرېکړه لیک د ملي شورى له خوا تصدیق شوی وي. دری:[تروریست و سازمان تروریستی]

## تروریستي جرمونه

د دولت یا د ملي او بین المللي مؤسسو او سازمانونو د سیاست تر اغېزې لاندې راوستلو یا د دولت د بې ثباته کولو په منظور د جرمي اعمالو ارتکاب.
دری:[جرایم تروریستی]

## ترهیبي جزاګانې

هغه جزاګانې دي چې موضوع یې د مجرمو اشخاصو د آزادۍ او ژوند سلبول دي. دری:[مجازات ترهیبی]

## تزویر

تزویر د قصد له مخې او د واقعیت پرخلاف د یوه امر جوړول دي. (جعل ته دې مراجعه وشي). دری:[تزویر]

## تزییف

د یوه هېواد په چلند وړ پیسو کې تقلب دی.
دری: [تزییف]

## تسالم

د منازعې د دواړو خواوو په منځ کې د سولې کولو په مفهوم دی. دری: [تسالم]

## تسبیب

قانوني او اساسي وجیبې دي چې تعبیر د هغې څنې په معین شکل صورت مومي. دری:[تسبیب]

## تسجیل

د قانون له حکمونو سره سم په اړوندو پاڼو او دفاترو کې د یوې پېښې لیکل او ثبتول دي. دری: [تسجیل]

## تسعیر

په بانکي حقوقو کې عبارت دی د یوه هېواد د پیسو د ارزښت ټاکل د بل هېواد د پیسو له ارزښت سره.
دری: [تسعیر]

## تسلیم

په مدني حقوقو کې پېرودونکې ته د هغه ځای د کلي ورکړه چې پلورل شوي شیان پکښې شتوالی لري او یاهم نوموړي ته د هغه شيء د اخیستلو د اجازې ورکړه.
دری: [تسلیم]

## تسوید

تورول، د لیکلنې کنایه ده. دری: [تسوید]

## تسویف

د محاکمې د ځنډولو په منظور د قانوني او غیر قانوني لارې تثبیت کول دي. دری:[تسویف]

## تسویق

بازار ته د پلورلو په موخه د مال عرضه کول (وړاندې کول) دي. دری: [تسویق]

## تشدد

په ضاربه، جارحه یا ناریه وسلې او یا جسمي توان ته په لاس اچولو سره هر مادي عمل برید بلل کیږي چې شخص د هغه ارتکاب ته اقدام وکړي. دری:[تشدد]

## تشریعي تفسیر

هغه تفسیر دی چې له مخې یې د یوه نص په واسطه د بل نص غوښ مراد (مطلب) صورت مومي.
دری: [تفسیر تشریعی]

## تشريفاتي عقود

هغه عقود چې د ځانګړيو تشريفاتو او شکلياتو په نظر نيولو کې انعقاديږي. دری: [عقود تشریفاتی]

## تشوه

له هغه ظاهري تغيير څخه عبارت ده چې د اصابت په وجه د جسم په يوه ځای کې ظاهريږي. دری: [تشوه]

## تشهم

د شحمي انسجې له تحول څخه عبارت دی چې شحمي سپين رنګه ماده باندې چې ژېړوالي ته ورته وي او په لمس سره د غوړوالي احساس ورکوي او سريښناکه وي چې د جسد د پاتې کېدلو له سببه په اوبو يا مرطوبه مځکه کې مينځ ته راځي. دری: [تشهم]

## تشهير

د يوه شخص په بدۍ او سوء سره مشهورول دي د خلکو په مينځ کې. دری: [تشهیر]

## تبنتونه

يو ناقانونه عمل دی چې د څښتن يا متصرف د منقول مال تبنتونه د هغه په وړاندې ترسره کيږي. دری:[ربودن]

## تصادفي مجرم

هغه مجرم چې د خارجي عواملو د تاثير لاندې د جرم مرتکب کېږي او د هغه د مقاومت قوه ضعيفه کوی. دری:[مجرم تصادفی]

## تصبن

د مړي د جسد صابوني کېدل چې په اوبو کې د جسد د شتوالي له امله منځ ته راځي. دری: [تصبن]

## تصحيح

تر ټولو هغه کوچنی عدد دی چې د هر وارث برخه ورڅخه د صحيح عدد په توګه لاس ته راشي. دری:[تصحیح]

## تصدير

له هېواد څخه بهر د مالونو صادرول دي. دری: [تصدیر]

## تصديق

د اړوندو واک لرونکو مراجعو او يا اشخاصو له خوا د يوه متن تائيدول دي د هغه د صحت په اړه. دری: [تصدیق]

## تصرف

که چيرې مال د چا په واک کې وي او وکړای شي ترڅو اصالتاً او يا هم نيابتاً خپل حقوق پرې عملي کړي، تصرف بلل کيږی. دری:[تصرف]

## تصفيه

عبارت دی د جاري چارو پای ته رسول، د تعهداتو ترسره کول، د غوښتنو (مطالبو) ترلاسه کول، د پورونو ترسره کول، د شتمنيو ويشنه او د نويو معاملاتو خلاصول چې هغه د يو شرکت د تعهداتو د ترسره کولو لپاره لازمي وي. دری: [تصفیه]

## تصفيه کوونکی

هغه شخص چې د ديني او يا عيني حقوقو د جلا کولو په اړه په قانوني توګه د محکمې لخوا مکلف شوی وي. دری: [تصفیه کننده]

## تصويب

د يوه متن تائيدول دي د اړوند واکمنو مقاماتو له خوا څخه. دری: [تصویب]

## تضامن

هغه تعهد دی چې د قانون په حکم او د داین او مدیون له توافق سره سم د دوی ترمنځ د دین د ورکړې او یا حاصلولو په وخت کې رامینځته شوې وي. (ضامن ته دې مراجعه وشي). دری: [تضامن]

## تضامني شرکت

هغه شرکت دی چې تر ټاکلي عنوان لاندې د سوداګرو دپاره د دوو یا څو تنو په منځ کې په تضامني مسوولیت سره جوړیږي. که د شرکت ټول شته د ټولو پورونو دپاره پوره نه وي نو د شرکت د ټولو پورونو ورکولو مسوول هریو شریک دی. تضامني شرکتونه باید لیکلی تړون ولري. دری: [شرکت تضامنی]

## تضامني مختلط شرکت

هغه ډول شرکت دی چې د سوداګریزو چارو لپاره تر مخصوص عنوان لاندې د دوو یا څو کسانو ترمنځ تشکیل او د هر یوه شریک مسوولیت د هغه د سرمایې په اندازه او د پورونو د اداء کولو په وخت کې جمعي مسوولیت. چې په شرکت کې یې لري. دې ډول شرکت ته کوماندیت هم وایي. دری: [شرکت تضامنی تختلط]

## تضامني مسوولیت

له هغه مسوولیت څخه عبارت دی چې مدیون یې د څو تنو د دینونو په وړاندې پدې شرط لري چې د هغوی هر یو دیون د غوښتنې حق لري. دری: [مسوولیت تضامنی]

## تضمین خط

عبارت دی د یوه سند له ورکړې څخه چې د هغه پر اساس د یوه غیر شخص یا څو تنو غیر اشخاصو مسوولیت د غیابت یا د تعهد د نه اجراء کولو په صورت کې منل کیږي. دری: [تضمین خط]

## تضمین شوي مطالبات (پورونه)

د عمومي مزایدې له لارې د هغې شتمنۍ پلورل چې د بانک پر وړاندې د اعتبار ورکوونکي د منظور شویو غوښتنو یا د نورو پر وړاندې د بانک د غوښتنو تضمین وکړي. دری: [مطالبات تضمین شده]

## تضمین شوی وصف

هغه وصف چې د یو شي جوړوونکی د عقد په درشل کې په جوړ شوي شي کې ژمنه کړی وي.
دری: [وصف تضمین شده]

## تطمیع

د وعدې، مالي امتیاز یا اجتماعي مقام او منزلت په ورکولو سره د چا طمع پیدا کول دي چې د هغې په پایله کې شخص د جرم ارتکاب ته اړ وځي. دری:[تطمیع]

## تعارض

د دوه قانوني، قضایي دلیلونو د متنونو مقابله ده چې یو د بل پر عکس وي او د دواړو ترمنځ یو ځای کېدل مقدور نه دی. دری:[تعارض]

## تعاطي عقد

هغه عقد څخه عبارت دی چې په هغې کې د عقد دواړه خواوې د خبرو اترو او مناقشې د آزادۍ او مساواتو څخه برخمنې وي او د هغوی ترمنځ د خبرو اترو، مناقشې او خپل منځي تفاهم وروسته عقد منعقدیږي.
دری:[عقد تعاطی]

## تعاقدي اهلیت

هغه شخص چې د حق د درلودلو او کارولو د توان خاوند وي، د تعاقدي اهلیت لرونکی دی.
دری:[اهلیت تعاقدی]

## تعاون
په یوه شریک حقوقي عمل کې همکاري ده.
دری: [تعاون]

## تعاوني ټولنې
له هغو ټولنو څخه عبارت دی چې د اشخاصو د ګډون پر بنسټ د اساسنامې سره سم په غیر انتفاعي توګه تأسیس شوي او د دوی موخه د عامه وګړو او په خاصه توګه د ټولنې د بې وزلو خلکو لپاره د عامه لاس رسي د اقتصادي خدماتو پلي کول او وړاندې کول وي.
دری: [جمعیتهای تعاونی]

## تعاوني شرکت
هغه شرکت ته ویل کیږي چې د یوې حرفې د څښتانو له خوا جوړیږي او د شرکت څښتان په ګډه د خپلو شیانو په تولید او خرڅولو لاس پورې کوي. (شرکت ته دې مراجعه وشي) دری:[شرکت تعاونی]

## تعدی
د بل چا د مال یا حق په وړاندې له ټاکل شویو حدودو څخه تیری ته ویل کیږي. دری:[تعدی]

## تعذر
د یو کار په سرته رسولو کې د یو عذر او مشکل پیداینښت. دری: [تعذر]

## تعذیب
هغه عمل چې د انساني کرامت مغایر وی او له متهم څخه د اعتراف په موخه تری ګټه اخیستل کیږي.
دری: [تعذیب]

## تعرضي عملونه
هغه کړنې دي چې د نورو پر حقوقو باندې د تیری په نیت ترسره کیږي. دری: [اعمال تعرضی]

## تعرفوي طبقه بندي (ویشنه)
د اړوندو مراجعو له خوا د مالونو (امتعې) د تشریح او نښې اینښودنې (کود ګذاری) څخه عبارت ده چې د ګمرکي تعرفي اړونده محصول د هغه له مخې اخیستل کیږي. دری:[طبقه بندی تعرفوی]

## تعرفه
هغه رسمي پاڼه ده چې د قانون او یا یوه ټاکلي تړون په اساس شخص یا اشخاص یو ټاکلی حساب ته د معینې وجې په ورکړې مکلف دي. دری: [تعرفه]

## تعزیر
هغه غیر معینې جزاګانې دي چه له یو عادي نصیحت څخه شروع کیږي او تر اعدامه پورې رسیږي او د دولت له خوا تطبیق کیږي. دری: [تعزیر]

## تعزیز
د یوه پیښ شوی حقوقي امر تاکید او تقویه ده.
دری: [تعزیز]

## تعقل
د اشیاؤ درک دی د هغوې له واقعیت سره. دری: [تعقل]

## تعقیب
د جرمونو د قضیې تعقیبول د څارنوال په واسطه (دعوی اقامه کول) د محکمې په وړاندې. دری:[تعقیب]

## تعقیبی څارنوال
هغه څارنوال دی چې د دوسیې د حفظ یا محکمې ته د هغې د احالې دنده لري. دری: [تعقیب څارنوال]

## تعلیق
هغه حالت دی چې د هغه پر اساس یو امر یا حکم د چارې یا چارو په ساحه کې، د نه اجرأ په حالت کې واقع کیږي. دری: [تعلیق]

## تعليقي پروسه

چې د ګمرکي دين د لاس ته راوړلو لپاره د ورکړې د تعليق موجب ګرځي. دری:[پروسه تعليقی]

## تعليقي مالونه

هغه مالونه دي چې تر تعليقي پروسې لاندې نيول شوي وي. دری:[اموال تعليقی]

## تعمدي مستي

هغه حالت چې مرتکب د جرم د کولو لپاره قصداً نشه کړي وي. دری: [مستی تعمدی]

## تعنت

يو قصدی جرمي فعل او يا د يوه حقوقي عمل سرته رسولو ته تعنت ويل کيږي. دری: [تعنت]

## تعويض

د مال هغه اندازه چې د جبران د خسارې په توګه له جرم څخه متضرر ته ورکول کيږي. دری:[تعويض]

## تغرير

هغه توصيف دی چې د مبيعې له حقيقي وصف څخه پرته مشتري ته توصيفيږي. دری:[تغرير]

## تغيب

د محکمې په وړانديز د دعوې د اصحابو له ډلې څخه د يوه غايب کېدل دي. دری: [تغيب]

## تفتيشي سيستم

د جزائي اجراآتو هغه سيستم دی چې په هغه کې مرتکب ته د اتهام توجيه کول د څارنوال له خوا کيږي او د قاضي ځيني د متهم لپاره د جزاء غوښتنه د څارنوال له خوا وي. دری: [سيستم تفتيشی]

## تفحص

په يو شي او يا مبيعه کې د غش د موندلو لپاره هڅه. دری: [تفحص]

## تفريق (بېلتون)

تفريق د نکاح د انحلال له ډولونو څخه هغه ډول دی چې د زوجې له خوا د بېلابېلو سببونو له مخې غوښتل کيږي او د زوجينو ترمنځ د زوجيت د رابطی د پرېکېدو سبب کيږي. دری:[تفريق]

## تفريط

د يو عمل نه ترسره کول دی چې د يو قرارداد يا عرف په اساس د مال د ساتنې لپاره غير لازم وي. دری: [تفريط]

## تفريغ

د ژمنې (تعهد) د سرته رسولو يا د دين د ادا کولو نه د شخص خلاصېدل دي. دری: [تفريغ]

## تفسخ يا موتي تعفن

د بدن د نسجونو تدريجي له منځه تګ دی چې د جراثيمو په فعل صورت مومي او د بد بويه غازونو د انتشار سبب ګرځي. دری: [تفسخ يا تعفن موتی]

## تفسير

د علمي او حقوقي اصولو پر بنسټ د قانوني نصوصو، قراردادونو او توافقاتو روښانه کول دي. دری: [تفسير]

## تفصيل

د شرحې او بسط ورکولو په معنی او د هغې ليکنې پوره کول چې د يوې موضوع په عمومياتو کې ليکل شوی وي. دری:[تفصيل]

## تفصيلي کروکي

هغه نقشه چې په هغې کې د جرم د صحنې جزئيات په مستقله توګه مجسم کيږي. دری:[کروکی تفصیلی]

## تفليس

يو شخص له مفلس ګرځولو څخه عبارت دی. دری: [تفلیس]

## تقاص

هغه شخص ته ويل کيږي چې خپل حق د نورو له مال څخه په خپل سر واخلي. دری:[تقاص]

## تقاعد

د قانون له حکم سره سم د دولتي کارکوونکي له وظيفې څخه ګوښه کېدل او يا د خدمت د ټاکلي مودې سرته رسيدل دي. دری:[تقاعد]

## تقبل

د يو عمل د ترسره کولو په اړه تعهد او د هغه په وړاندې التزام ته ويل کيږي. دری:[تقبل]

## تقبيل

د نارينه يا ښځينه ترمنځ يې د زوجيت د علاقه د نه شتوالي په صورت کې يو بل ته داسې مچې ورکول او مچې اخيستل چې د شهوت له مخې ترسره شي. دری: [تقبیل]

## تقدم

د ضرر د دفع د علاج په منظور د منځ ته راتلو مخکې توصيه او اخطار. دری: [تقدم]

## تقديري مړينه

د غره په حالت کې د جنين سقط. دری: [فوت تقدیری]

## تقسيط

په يو شمير ټاکلو وختونو کې د قسطونو په توګه د دين د ورکړې څنګوال دي. دری:[تقسیط]

## تقصير

د فاعل له اهمال يا خطاء څخه عبارت دی چې د قانون پرخلاف د عمل مرتکب شوی وي. دری:[تقصیر]

## تقصيري افلاس

هغه افلاس دی چې د فاحش اهمال او خطاء څخه مينځ ته راغلی وي او په هغه کې ناوړه نيت مطرح نه وي. دری: [افلاس تقصیری]

## تقصيري جهل

پدې معنی دی چې شخص د خپل تقصير له مخې د قانون څخه خبرتيا نه حاصلوي. دری: [جهل تقصیری]

## تقصيري عمل

هغه عمل دی چې د بې احتياطی له مخې د شخص له خوا صورت ونيسي. دری: [عمل تقصیری]

## تقلب

د يوه شي په ماهيت او يا صفتونو کې بدلون راوستلو ته د سوء نيت په توګه ويل کيږي. دری: [تقلب]

## تقلبي سکه

هغه سکه چې د ترکيب په لحاظ له اصلي سکې سره تفاوت لري او د هغو مقاماتو له خوا چې د توليد او تائيد مسووليت لري توليد شوی نه وي. دری : [سکه تقلبی]

## تقليح

بلاربول (حامله کول). دری: [تقلیح]

## تقلید

د قانوني مسکوکاتو شبیه مسکوکاتو وضع، په هره وسیله چې جوړ شوی وي یا د کاذب شی اصطناع چې د اصلي شي شبیه وي. دری:[تقلید]

## تقنین

د قانوني قواعدو له وضع کېدو څخه عبارت دی چې د دولت د واکمنو مقاماتو له خوا صورت مومي.
دری: [تقنین]

## تقیید

د یو عقد او تصرف د موضوع او یا هم د هغو قانوني اوصافو او شرایطو له محدودولو او مقید کولو څخه عبارت دی چې د هغه رعایتول پس د دواړو طرفونو له موافقې څخه د عقد د صحیح انعقاد لپاره لازم دی.
دری: [تقیید]

## تقییدی عقد

هغه عقد چې په موجب یې شخص په امر یا امرونو کې له تصرف څخه منع کیږي. دری: [عقد تقییدی]

## تکافو

په حقوقي مادي ژمنو کې د تأمینولو او ورکړې د کفایت کول او مقنع والي په معنی. دری: [تکافو]

## تکدیري جزاګانی

هغه سپکې او خفیفې جزاګانې دي چې پر اشخاصو باندې چې د کوچنیو جرمونو مرتکب شوی وي، د توبیخ لپاره تطبیق کیږي. دری:[مجازات تکدیری]

## تکفل

د یو ټاکلي شخص تعهد دی چې خپله وجیبه ادأ کړي.
دری:[تکفل]

## تکفین

د مړي پوښول په هغه ناګنډل شوي جامې سره چې په شرعي توګه ددې کار لپاره مروج شوي دي.
دری: [تکفین]

## تکلیف

هغه عمل دی چې فرد د هغه پر اجرأ ملزم وي.
دری: [تکلیف]

## تکلیفي حکم

د یوې چارې ترسره کولو او یا نه ترسره کولو ته وایي.
دری: [حکم تکلیفی]

## تکمیلي دلیل

هغه دلیل دی چې په دلالت کې په خپل ذات ولاړ نه وي اما بل ناقص دلیل تکمیلوي. دری: [دلیل تکمیلی]

## تکمیلی جزاګانی

هغه مجازات دي چې د محکمې د حکم پر اساس، په محکوم علیه باندې په اصلي جزاګانو سربېره تطبیق کیږي. دری: [مجازات تکمیلی]

## تلاشي

په جرم پورې د اړوندو شیانو او اشخاصو لټونه او پلټنه ده. دری:[تلاشی]

## تلف شوې شتمني

هغو شتمنیو ته ویل کیږي چې له تصرف سره له منځه تللی وي او تعویض کېدای نه شي.
دری:[دارایی تلف شونده]

## تلفیقي حقوق

هغه حقوق چې د ارادي حقوقو او طبیعي حقوقو د تلفیق په نتیجه کې رامنځ ته کیږي. دری:[ حقوق تلفیقی]

## تم ځای

له هغه ټاکل شوي ځای څخه عبارت دی چې عامه ملکیت ګڼل کیږي او د ښاري خدمتونو په نظر کې نیولو سره د مسافر وړونکو عراده جاتو د تم کېدو لپاره د اړوندو مراجعو له خوا د قانون له حکمونو سره سم ټاکل کیږي. دری:[توقفگاه (ایستگاه)]

## تماثل

د کسرونو د مخرجونو یو شان والی دی، یعنې داچې د هغو کسرونو مخرجونه چې د وارث برخه ورڅخه لاس ته راځي، یو ډول وي. دری:[تماثل]

## تمبر

د یو معین هېواد پوستي ټکټ چې د پستي مراسلاتو په منظور د اړوندو مراجعو له خوا طبع او ارزښت ولري. دری:[تمبر]

## تَمَلُك

په عقدونو او تصرفاتو کې د یو شي او یا ګټې لاس ته په راوړلو اطلاقیږي. دری: [تملک]

## تملیك

یو شخص او یا اشخاصو ته د عوض په مقابل او یا پرته له هغې، د یو شي او یا منفعت سپارلو ته ویل کېږي. دری: [تملیک]

## تملیکی عقد

هغه عقد چې له انعقاد سره یې سم د ملکیت لیږدونه صورت مومي. دری:[عقد تملیکی]

## تملیکی وصیت

هغه وصیت دی چې وصیت کوونکی سپارښتنه کوي چې د هغه ملك یا مال دده له مړینې څخه وروسته معین شخص یا اشخاصو ته ورکړ شي. دری: [وصیت تملیکی]

## تن پیمائي

هغه سیستم چې د مجرمینو د پیژندګلوۍ لپاره د وجود د اندامونو د توصیف او کچې اخیستنې په واسطه ترسره کیږي. دری: [تن پیمایی]

## تناسبي سیستم

هغه سیستم دی چې د هغه له مخې د څوکیو نیول چې اندازه یې پخوا ټاکل شوی وي، صورت مومي. دری: [سیستم تناسبی]

## تناقض

تناقض له هغه حالت څخه عبارت دی چې نوی متن له پخواني متن سره په تضاد کې واقع کیږي. دری: [تناقض]

## تنجیز

په سملاسي توګه حقوقي ترتیب اثر، نتیجې او په عقدونو کې د هغو انفاذ ته ویل کیږي. دری:[تنجیز]

## تنزیهي مکروه

هغې مکروه ده چې شریعت خلك ترې منع کړې وي اما نه په حتمي او لازمي توګه چې ددې ډول مکروه مرتکب د جزاء یا ملامتۍ مستوجب نه ګرځي. دری: [مکروه تنزیهی]

## تنفیذ

د حکم د تطبیق او پر مجرم باندې د جزا ایښودل. دری:[تنفیذ]

## تنفیذ اجباری

د قضاء د صادر شوي حکم جاري کول د هغو قانوني واکونو په استفادې سره چې د قانون د ساتنې او تطبیق ځانګې یې په دې برخه کې لري چې د اختیاري تنفیذ د نشتوالي په صورت کې اعمالیږي. دری: [تنفیذ اجباری]

## تنقیص

د یو حق ، افرادو او یا شیانو د تعداد د کچې د کمولو په معنی استعمالیږي. دری: [تنقیص]

## تواتر

هغه پرله پسې جمعي خبر دی چې کذب یې محال وي.
دری:[تواتر]

## توافقي ارتفاق

هغه ارتفاق دی چې د هغې د پیدایښت منشأ د مجاورو املاکو د څښتنانو توافق دی. «وګورئ ارتفاق»
دری: [ارتفاق توافقی]

## توالي

هغه اصطلاح چې د چارو د تداوم او پرله پسې والي لپاره کارول کیږي. دری: [توالی]

## توبیخ

د هغې کوچنۍ اداري له مجازاتو څخه عبارت دی چې له عمله یې متخلف سرزنش او نکوهش کیږي.
دری:[توبیخ]

## توحیدي وجوه

هغه وجوه ده چې د دولت په واسطه راټوله او توحید کیږي. دری:[وجوه توحیدی]

## تور بازار

هغه بازار دی چې په هغه کې ټولې معاملې د موضوعه قوانینو پرخلاف د بیې او جیره بندۍ په اړوند صورت مومي. دری: [بازار سیاه]

## تورید

هیواد ته د کالیو واردول دي. دری:[تورید]

## توشیح

د ملي شورا د دواړو مجلسونو د مصوبې له تائیدولو او لاسلیک کولو وروسته د جمهور رئیس له خوا نه د یوه فرمان له لارې د هغې موضوع تایید دی. دری: [توشیح]

## توصیف

د یوې موضوع د حقوقي صفت ټاکل او بیانول دي چې د هغې په نسبت د خصوصي نړیوالو حقوقو شکلي او متني قاعده د تطبیق وړوي. دری:[توصیف]

## توطئه

هغه غیر قانوني او نا مشروع اعمال دي چې هدف یې د یو منفعت لاس ته راوړل او یا د یو عین د تملك لپاره لاس ته راوړنه وي. دری:[توطئه]

## توقیت

د ژمنې (تعهد) د سرته رسولو د مودې ټاکلو ته ویل کیږي. دری: [توقیت]

## توقیف ځای

هغه ځای دی چې د محاکمې په انتظار تورن اشخاص د تحقیق د تکمیلولو په موخه هلته ساتل کیږي.
دری: [توقیف خانه]

## توقیفي اصطلاح

هغه نوم ایښودنه ده چې د بدلون وړ نه وي.
دری:[اصطلاح توقیفی]

## توکن

هغه جعلي قیمت لرونکې نښه ده چې قانوني ارزښت ونه لري. دری: [توکن]

## تؤکید

هغه حقوقي عمل دی چې شخص د عقد له تړلو وروسته د هغه مطالب مني. دری: [تؤکید]

## توليه

د هغه شي لېږدول دی چې په لومړنۍ عقد کې په لومړنۍ بيـه پرتـه د ګټې د زيـاتولو مالـک تـه ورکـړی شـي.
دری: [توليه]

## توليه بيع

د لومړي ثمن په شان له خرڅلاو څخه عبارت ده. (بيع ته دې رجوع وشي). دری:[بيع توليه]

## توهين

د هر هغه فعل له کولو يا ترک څخه عبـارت دی چې د عـرف او عـادت لـه مخې د بـل طـرف د کسـر شـان يـا تضعيف يا تحقير سبب وګرځي. دری: [توهين]

## تهاتر

هغه حالت دی چې دوه شخصه د يـو بـل پـه مقابـل کې پوروړي وي. دری: [تهاتر]

## تهجايي

عبارت دی د دولت د املاکي خدماتو لـه ګټې اخيسـتلو څخه د يو قرارداد په بڼه د حقيقي او يا حکمـي اشخاصـو د ځانګړو فعاليتونو د ترسره کولـو پـه منظـور د قـانون لـه حکمونو سـره سـم د محصـول د ورکولـو پـه بـدل کې.
دری:[تهجايی]

## تهديد

په فشار راوړلو اتکأ کول پر بل باندې چې په پايله کې د جرم مرتکب شي. دری:[تهديد]

## تهديدي اهانت

هغـه تهديـد دی چې د شـخص د تـوهين باعـث کېږي.
دری: [اهانت تهديدی]

## تهمه

د ګټې جلبول او د ضرر دفع کول دي. دری:[تهمه]

## تېرېدونکي جرمونه

له هغو جرمونو څخه عبارت دی چې د شکايت کوونکی په اساس تـر عـدلی تعقيـب لانـدی راځـي او د شکايت ځينـې تېرېـدل د هغـو عـدلي تعقيـب متوقـف کـوي.
دری:[جرايم قابل گذشت]

## تيرې زمانې ته د قانون عطف

د هغو پېښو په اړه چې د قانون د نفـاذ تـر تـاريخ مخکـې شوی وي. دری:[ عطف قانون بماقبل]